AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر صلاح الدین  سعیدي ٢٠٢٣/٠٨/٢۶

# پوښتني:

## پوښتني چې ځواب غواړي!

کوچنیان، میرمن او کاروبار او بنګلي  دي د ای اس ای او جي اچ کیو  او پاکستاني استابلشمنت په اختیار او تر نظر  او ولکي لاندي، نو ته به ددې توان ولرې او دده به جوګه شئ چي د وطن له ناموسه ، د پنجاب  د ښکاره تجاوز او حملي، بمبارد او ستا له مېلمه د هغه د تجاوز مقابل کي دفاع وکړي؟

تأريخي ديوسي يي در واړوله! سر دې پرې خلاص شو؟ تېر جهاد او کارنامې دې په صفر ضربوي! سر دې پرې خلاصيږي؟

اوس نو ستاپه نظر ، سګ شویي او سګ شويان ښه شول که ته؟

او هو  هغه تأريخي لافي دې په ياد دي:

گرندانی غیرت افغانی ام

گربه میدان آمدی میدانی ام

توپک  او آدم کش خو لرئ، خو وجدان، داخلي قضاوت ، پښتني او افغاني غېرت  څنګه؟

له خبرې نه عمل ته کله؟

هغه جم خو به نه  کوې، چې حق بګو خو به طرف مه !

لږ انصاف! جبروتونه تېر شول، ستا دور به هم تېر شي! تاريخونه  وايکل شول، ستا به هم وليکل شي!

که دې لا هم سر  نه وي ،خلاص، پر کنړ، پکتیکا او پکتیا باندي  د پنجابي  مکار دښمن بمباردمان او ستا چپتیا درياودوم! ملا دې ورته خلع سلاح کړ او دښمن ته دې وويل: راځه پرې !

که داسې نه ده او دفاع هم  نه شي کولای  نو بيا د ملت د دفاع مانع خو  مه کيږه !

له جبروته، خوکامګی، ظلم، تماميت خواهی،  او بې  غېرتی لاس واخله! دا فرصت به هرکله نه وي! ملت او دا ستر مجاهد او مظلوم ملت خپل کړه! په ملت باور وکړه او خپل تول عبادت مه خرابوه !

انتخاب ستا !

خو پوښتني ځوابونه غواړي!

داکتر صلاح الدین  سعیدي
٠٠۴۴٧٨٨۶۴٧۴۶٣٨
٢٠٢٣/٨/٢۴



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ